Downloaded from: The Digital Library



نه کاوه، د حامد بن زهره د قاتلانو لپاره د سعید مونډل اوس د مرگ او ژوند سوال جوړ شوی، إن شاء الله موږ ته به ډیر زر دا معلومه شی چی هغوی هلته تللی دی څه یی وکړل، او موږ باید د دوی په مقابل کی څه وکړو، اوس ته یوازی دعا کولی شی.

سعید پوره په هوښ راغلی ؤ، خو څو دقیقی یی خپلو خدمتگارانو ته د کتو توان نه درلود، بیا یی یو ځل سترگی له رپولو وروسته وغړولی او دوی ټول چوپ شول. د سعید سترگی د عاتکی پر څیره میخ شوی او په کتو کی یی بی شمیر پوښتنی اوښتی.

بدریه په بیړه ورغله پر تندی یی لاس ورکیښود ویی ویل : وروره، د عاتکی په اړه اندیښنه مه کوه! ستا وضعه ښه نه وه ما پیغام ور واستاوه او راومی غوښته، ستا دی ته اړتیا وه، سعید هڅه وکړه چی پورته شی خو سر یی ورباندی وڅرخید او بیرته یی بی سیکه پر بالښت سر ورکیښود، بیا په خوب کی ویوگنیده: داسی می گڼله لکه خوب چی وینم، کاشکی عاتکه مو نه وای راغوښتی، په دی حالت کی موږ له یو بل سره هیڅ مرسته نشو کولی، بیا یی څو شیبی ترخوله بی معنی غږونه ووتل او بالاخره بی سده شو.

بدریی او سلمان په ډیر زحمت دوا پری وخوړه، چی بیا لږ را په خود شو یوه شیبه یی خپلو خدمت کوونکو ته وکتل او بیا یی سترگی پټی کړی، لږ ځنډ وروسته په درانه خوب ویده شو.

*****

دوه ساعته وروسته سلمان د میلمنو حجری ته تللی ؤ او بدریی په بله کوټه کی د مازدیگر لمونځ ادا کړ، چی جگیده اسما چی له عاتکی او سعید سره وه په منډه ورغله ورته ویی ویل : مور جانی! هغه بیا را په خود شو او له عاتکی خاله سره خبری کوی، هغه له دی نه خفه ښکاری، ما ورته وویل چی خاله پخوا هم ډیر ژړلی دی، اوس یی لږ دوڼ ناست دی. میلمه به لمونځ ادا کړی وی هغه راولم؟

بدریی د هغی لاس ونیو ویی ویل : نه ته دوی پریږده چی خبری وکړی، د میلمه د پریشانه کولو ضرورت نشته، ورشه هغه ته یوازی دومره روایه چی اوس د ببی وضعه ښه ده.

یو ساعت وروسته بدریه په خپله کوټه کی ناسته وه چی یوه دردناکه چیغه یی واوریده، په منډه له اسما سره د سعید کوټی ته ورغله، خو هغه بی سده شوی ؤ،

